# پنجاب غواړي وخت سپما کړي !

په دې روستيو کې د پاکستان دولتمشر اصف علي زرداري د امريکا يوې وتلې ورځپاڼې واشنګټن پوسټ ته په استولې ليکنه کې ويلي « موږ به د ترهګرۍ پای ته رسولو لپاره خپلې هڅې جاري ساتو، خو کم نصيبي دا ده چې دې برخه کې زموږ وسايل زموږ له مسووليتونو سره سمون نه لري. پاکستان پسې د خبرو پر ځای ، له پاکستان سره خبرې وکړی . تاند »

کله چې ترهګرۍ څخه د ملاتړ په بوختسه کې پنجاب ، د افغانستان او نړيوالو په تېره بيا د امريکا د متحده ایالاتونړنیوکو لاندې راځي د پنجاب لوړپوړې چارواکي د غوړې ژبې په کارولو سره هڅه کوي نړيوال پام له اصلي موضوع څخه بلخوا وګرځوي او د ترهګرو په مټ پر افغانستان او ناټو باندې د نويو ګوزارونو لپاره وخت سپما کړي .

کابل کې د روان کال د سپيتمبر په ۱۳ مه د امريکا پرسفارت ، ايساف او د سيا ( CIA ) پر مرکز اريانا هوټل باندې بلوا او مخامخ پوځي يرغل چې د ای ايس ای ( ISI ) په لاس ترسره شو ، امريکايانو او نړيوالو ته يوځل بيا د نيويارک ښار پر نړيوال سوداګريځ مرکز باندې د ۲۰۰۱ کال د سپيتمبر د ۱۱ مې نېټې ناتار راتازه کړ . دا په حقيقت کې د سپيتمبر د ۱۱ مې سره له څو اړخونو ورته پېښه ګڼلای شو .

په دواړو پېښو کې ترهګر او القاعده لاس لري ، خو د کابل په پېښه کې ترهګر بيا د ای ايس ای او د پنجابي دولت د پوځي کړيو په بڼه راڅرګنديږي !

د سپيتمبر په ۱۱ مه نه يوازې په نيويارک کې سوداګريځ مرکز بلکې پنتاګون هم په نښنه شوی وو ، دلته هم ګورو چې د کابل په پېښه کې ايساف ، د سيا اداره او د امريکا سفارت په نښنه کيږي .

کله چې د سپيتمبر د ۱۱ مې پېښه وشوه ، امريکا هغه مهال طالبانو ته ګواښ وکړ چې په پېښې تورن نړيوال **ترهګر بن لادين** امريکا ته وسپاري خوطالبانو غبرګون کې د هيواد په کچه طالب استازي مرکز ته راوبلل او د غونډې د پريکړې په ترڅ کې يې د امريکا غوښتنه رد کړه .

دلته هم ګورو چې د روان کال د سپيتمبر په ۳۰ مه « د پاکستان لومړي وزير يوسف رضا ګيلاني په مشرۍ د دغه هيواد د ګوندونو د مشرانو په غونډه کې د آی ايس آی او د حقاني د تروريستي شبکې ترمنځ د اړيکو په باب د امريکا تورونه رد شول . اسلام اباد کې د لومړي وزيرګيلاني له لوري د ټول پاکستان د ګوندونو د سلا مشورې په دې غونډه کې د دېرشو ګوندونو پر مشرانو سربېره د پاکستان د پوځ لوی درستيز اشفاق کياني او د آی ايس آی مشر جنرال احمد شجاع پاشا ګډون کړی وو. تاند »

خو هغه ځل د سپيتمبر د ۱۱ مې روسته امريکا ځنډ ونکړ او د طالبانو پر واکمنۍ يې چې امريکا ته يې د بن لادين په سپارلو کې نکره کړې وه ، پوځي يرغل پيل کړ .

اوس هم خبره په همغه مورګه او کنډه ولاړه ده . د پاکستاني لوړپوړو چارواکو له منډو ترړو او غونډو څرګنديږي چې پنجاب د ترهګرو له ملاتړه لاس نه اخلي .

پنجابي لوړپوړو چارواکو چې پاکستان کې يې د بن لادين له شتون څخه هم انکار کاوه خو بن لادين د پنجاب په يوه **پوځي مرکز ايبټ اباد** کې پيدا او همله له منځه يوووړل شو . پنجاب کې د بن لادين ميندل او وژل د پنجاب د رسوايۍ تشت له بامه راختا کړ او پنجاب يې په نړيواله کچه رسوا او بدنام کړ . خو د ايبټ اباد او بن لادين له رسوايۍ څخه چې څو مياشتې نه تېرېږي ، پنجاب بيا هم د

ترهګرو د روزنې او پاللو څخه لاس وانه خیست او اوس په لا سپین سترګۍ او بې شرمۍ سره د ترهګرو د ملاتړ په سنګر کې ټینګ ولاړ دی !

د افغانستان سرحدی ولایتونو لکه نورستان او کونړ کې پنجاب په ځو تېرو ورځو کې له ۶۰۰ څخه زیات توغندي ویشتلي چې هغو کې په لسګونو ملکي کسان شهیدان او یو زیات شمیر یې خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ شوي دي . دا په روان کال کې د افغانستان پر سپیڅلې خاوره د پنجاب څلورم پوځي یرغل ګڼل کیږي .

پنجاب یوازې په تېر سیپټمبر کې پر کابل او په هیواد دننه ځو ډله یځ او ځانمرګي یرغلونه کړي چې د امریکا پر سفارت او ایساف یې روستی برید ددې لړۍ دوام ګڼلای شو .

خو القاعده او ترهګرو ته د خوندي ځایونو د برابرولو او ددې ټولو ښکاره بریدونو او یرغلونو سره سره بیا هم پنجاب د افغانستان او نړۍ پر وړاندې انکار کوي او افغانستان او نړۍ ته وایي چې په دې اړه دې پنجاب ته لاسوندونه ښکاره کړي او دوی سره دې خبرې وکړي .

پنجاب د افغانستان او نړۍ پر وړاندې خپله له جګړې او زور څخه کار اخلي ، خو افغانستان او نړۍ ته وایي چې دوی سره دې زور او جګړه نه کوي او خبرې دې ورسره وکړي !

دوی د افغانستان ولایتونه په بمونو او راکټونو ولي ، په کوردننه په پوځي بریدونو او چاودنو کې افغانان وژني ، افغانستان ورانوي او ساخیستلو ته یې نه پرېږدي ، خو افغانانو ته وایي چې ددې وژلو او ورانۍ لاسوندونه وښۍ ، پنجاب پسې خبرې مه کوۍ ، بل چاته حل مه وایۍ او چوپ اوسۍ !

خو اوس یې همدغه شان لوبه نړۍ او امریکا سره هم پیل کړه !

امریکا ته هم وایي چې پر سفارتونو او بنسټونو به دې بمونه او توغندي ولم خو شکایت به نه کوي ، خبرې به راسره په نرمه کوي او د پنجاب په لاس د خپلو ورانیو او وژنو لاسوندونه به هم چې ادعا یې کوې ، په وخت راته وړاندې کوي !

که داسې نه وي تاسو هم ( امریکایان ) د افغانستان تر اغیز لاندې راغلي یاست !

پنجاب چې پخپله جګړه کوي ، خو افغانستان او امریکا ته وایي چې خبرې راپسې مه کوۍ ، نرم به غږېږۍ او لاسوندونه به هم وړاندې کوۍ د ډېرو په اند غواړي وخت سپما کړي . پنجاب افغانستان او لویدیځ سره د جګړې او ننډریو د مخبیولو لپاره د چین ، روسیې ، عربي ملکونو او نورو څخه مرستې ، مالي او پوځي ملاتړ ته اړتیا لري او دا ټول بیا وخت ته اړتیا لري . بلخوا پنجاب په دې هم پوهیږي چې امریکا نن په هغه ځواک او دریځ کې نه ده چې لس کاله مخکې یې طالبانو ته سزا ورکړه او نن به داسې سزا پنجاب ته هم ورکړي شي .

پنجاب غواړي خپلو اړیکو کې د لویدیځ او امریکا ځای په چټکۍ سره چین او نورو ته ورکړي او له دې کبله باید دوه مخي ، ټګي او په سیاست کې مانور وکړي ترڅو دې موخې ته ورسیږي .

تېره اوونۍ د چین د لومړي وزیر مرستیال پنجاب ته سفر وکړ « منابع خبری پاکستان امروز در رابطه با سفر این مقام چینی به اسلام آباد نوشتند که پس از افزایش فشارهای آمریکا بر پاکستان برای مقابله با شبکه حقانی و تلاش پاکستان برای مقابله با این فشارها، "مینگ جیان ژو" معاون نخست وزیر چین امروز دوشنبه وارد اسلام‌آباد شد. »

په دې سفر کې دواړو خواو یو بل سره د تودو اړیکو په اړه څرګندونې وکړي او یو بل ته وویل شول چې د یوه هیواد دوښمن د بل هیواد دوښمن هم دی .

د روان کال د مۍ میاشت کې هم د پاکستان لومړی وزیر یوسف رضا ګیلاني چین ته تللی و او د دغه هیواد لومړي وزیر سره یې د پاکستان د اړیکو په لا پراختیا خبرې کړي وې .
« ایبټ اباد کې د اسامه بن لادن د وژل کېدو پر سر له پاکستان سره د امریکا د اړیکو له سړېدو وروسته د چین او پاکستان مشرانو په یوه سمبولیک اقدام کې ژمنه وکړه چې خپلې اړیکې به نورې پراخې کړي.
د چین لومړي وزیر وین یاوبو د پاکستان لومړي وزیر یوسف رضا ګیلاني سره په یوه ګډه خبري غونډه کې وویل : مهمه نه ده چې په نړیوالو روابطو کې څه بدلون راځي، خو چین او پاکستان به تل ښه ګاونډیان، ښه دوستان، ښه شریکان او ښه ورونه وي . د ښاغلي یاوبو د څرګندونو په ځواب کې د پاکستان لومړي وزیر وویل ، پاکستان غواړي چې چین په نړیوالو چارو کې مهم او بر رول په غاړه واخلي .
د پاکستان لومړي وزیر زیاته کړه : دې کې شک نه لرم چې د چین هوښیاري او پوهه به پر بشریت ژور او ګټور اغېز ولري .موږ خوشاله یوو چې چین به ۲۱ مه پېړۍ کې د نړۍ د مسیر په ټاکلو کې مخکښ رول ولوبوي . دواړه هیوادونه په خپل منځ کې پوځي همکارۍ هم زیاتې کړي او تر ټولو مهم دا چې دواړو خواوو په ګډه **د جنګي الوتکو** جوړولو ته ملا تړلې ده. »

بلخوا **ایرنا** د نیشن ورځپاڼې څخه د یوه رپوټ په حواله لیکي « رباني کهر وزیرخارجه پاکستان در دیدار با سرگئي لاورف همتاي روس خود، در حاشیه شصت و ششمین نشست مجمع عمومي سازمان ملل متحد در نیویورك، با وي درباره مسائل امنیتي منطقه و صلح در افغانستان گفت و گو کرد.
دو طرف ضمن ابراز رضایت از روابط کنوني اسلام آباد و مسکو، نسبت به تلاش جدي براي همکاري براي ایجاد رفاه و ثبات در منطقه ابراز علاقه کردند. مسائل امنیتي منطقه از جمله اوضاع در افغانستان، محور گفت و گوهاي روز پنج شنبه خانم حنا رباني کهر وزیر خارجه پاکستان و همتاي روسي وي را تشکیل داد. »

پنجاب به د امریکا او لویدیځ سره د بدیل د چمتووالي تروخته ټال چال ځي ، پلمې به کوي ، د ټګۍ او مانور سیاست به چلوي او په دې ډول نوې لوبې ته به وخت سپما کوي . پنجاب به دا ځل هم په تمه وي چې د لویدیځ او ختیځ تر منځ نوی لوبه کې افغانان بیا د پخوا پشان د یوې وسیلې پتوګه وکاروي !

خو افغانان باید دا ځل پنجاب ته د وخت د سپما او ځان تیارولو فرصت ورنکړي ، خپلمنځي اختلافونه یوې خواته پرېږدي او هغه تشه چې سیمه کې د پنجاب په ړنګېدو سره رامنځته کېدونکې ده او همدارنګه هغه تشه چې د دوکتور نجیب الله د واکمنۍ روسته له ۱۹۹۲ کال راهیسې هیواد کې شتون لري پخپل یووالي او پیوستون سره ډکه کړي او په سیمه کې د خپلې واکمنۍ لپاره هغه رول چې ۲۱ مې پېړۍ د لروبرو افغانانو پر اوږو ایښی ، په وړه توګه ادا کړي !

د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر ۲ مه

سرلوڅ مرادزی